


@AsmatTjk Scanned

# فلسفه څهٔ ته وايي؟

شيرعلي باچا

Scanned with CamScanner

# فلسفه څۀ ته

# وائي

1

شبر علي باچا

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د کتاب ټول حقونه د ليکوال پۀ حق کښې خوندي دي


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | فلسفه څۀ ته وائي |
| مصنف: | شہر علي باچا |
| ترتيب او نظر ثاني: | کامران دانش اپريدے |
| کمپوزنگ: | کامران دانش اپريدے (0317-0636829) |
| ځير کتنه: | شاکر الله شاکر |
| چاپ شمېر: | 500 |
| پرېس: | کتاب کور پېښور |
| خپرؤنکې: | کتاب کور پېښور |
| چاپ کال: | 2022ء |
| بېعه: | 120 |

د موندلو درک

کتاب کور ارباب روډ سټاپ پېښور

00923319801600




www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# ترون

د مزدور کسان پارټۍ په

**نوم**

چې د فلسفې په رڼا کښې د خواري کښو
د ازادۍ تحريک مخ په وړاندې بوځي

شېر علي باچا



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د فلسفې تعریف

هره ورځ مونږ وینو ګورو چې زمونږ نه ګېر چاپېره بې شمېره څیزونه پراتۀ دي په اسمان کښې د شپې ستوري او سپوږمۍ وینو او د ورځې نمر ـ په مزکه..... کانړي، بوټي، فصلونه، دریابونه او غرونه په نظر راځي ـ د دې نه علاوه بنیادم دي چې په بېلو بېلو کسبونو کښې اخته دي او قِسم قِسم څیزونه جوړوي او پېدا کوي ـ غمونه او خوشحالۍ دي ژوند او مرګ دے، پرې جنبې دي ـ جنګونه او شرونه دي ، غرض دا چې یوه لویه هنګامه ده او د قدرت یوه عجیبه کارخانه ده ـ چې سړے ورته فکر واخلي ـ چې اخر دا ټول څۀ دي ؟ دا د کوم ځایه نه راغلۀ؟ او کوم خوا ته روان دي؟ ژوند څۀ څیز دے ؟ بنیادم څۀ شے دے؟ د یو بنیادم د بل بنیادم سره څۀ تعلق دے؟ د بنیادم او د نورو کائناتو په مینځ کښې څۀ رشته ده؟

د فلسفې علم په دې او په داسې قسم نورو سوالونو باندې بحث کوي او د دې ټولو سوالونو په باره کښې د پوهې یو عام اصول بیانوي ـ په نورو ټکو کښې د ژوند په باره کښې. د سالمې دنیا په باره کښې د انسان د انسان سره او د باقي دنیا سره. د هغۀ د تعلق په باره کښې چې د پوهې عام اصول او تراشلې شي نو عام طور دې ته فلسفه وائي هم دغه د فلسفې تعریف کېدے شي ـ په زړه یوناني ژبه کښې د فلسفې مطلب د علم او د پوهې د پاره مینه ده.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## فلسفي او عام سړي کښې فرق

د فلسفې د تعريف کولو نه پس دا ښکاره خبره ده چې د هر چا په ذهن کښې څۀ نه څۀ فلسفه موجوده وي. يا د فلسفيانو خيال نه ئې اثر اخستلے وي. (خو د عام سړي په ذهن کښې دا قسم خيالونه خوارۀ وارۀ وي. شډل او يو بل سره تړلي نۀ وي. د هغۀ دا نۀ وي زده چې په دې بحث اوکړي. او يا ترې ګنډلي اصول جوړ کړي)
د مثال په طور ځنې خلق وائي چې د دې دنيا مثال د يو سرائے دے. دا دنيا فنا کېدونکې ده او د غمونو او تکليفونو کسوړه ده. د دې د پاره مونږ ته پکار دي چې په ډېر صبر او شکر دا غمونه او تکليفونه تېر کړو نېک عمل اوکړو. د بني ادمو سره نېکي او ښېګړه اوکړو او د يو بلې نۀ فنا کېدونکې دنيا د پاره ځان سره څۀ نه څۀ توښه يوسو. دا يو قسم فلسفه ده.
د دې مقابله کښې نور خلق وائي چې دا دنيا د ترقۍ يو ځائے دے او دا کوشش پکار دے چې د دنيا نه دا غمونه او تکليفونه لرې شي چې بنيادم په دې دنيا د خوشحالۍ او ارام ژوند تېر کړي. او دا دنيا نوره هم ښائسته او ښکلې کړې شي. دا د فلسفې بل قسم دے.
د دنيا په باره کښې دا نقطه نظر جدا او دويم قسم دے.
بل خوا د فلسفې خاوند خپلو خيالاتو يا د دنيا په باره کښې خپل نقطه نظر له يو ترتيب ورکړے وي. او په تفصيل سره ئې دا په يو



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګنډلي شکل کښې راغونډ کړي وي او د يو خاص وخت دغه خورې ورې او تتې عقيدې ئې په کلک او تړلي اصولو کښې بدلې کړې وي۔

په يو عام سړي کښې او په فلسفي کښې دغه فرق دے۔ د دې نه دا هم ښکارېږي چې د يو فلسفي ټولې نظرئې اصلي نهٔ وي۔ يعنې يواځې د هغهٔ د دماغو زرغونه دي۔ دا ټيک ده چې خيالات يو لړه کول او د هغې د ليکلو يو خاص طرز د يو خاص فلسفي کار دے۔ خو په اوچت او عمومي ډول کښې د دغې خيالاتو پخپله يو معاشرتي بنياد وي۔ کوم چې د يو وخت د معاشرتي عمل او معاشرتي رشتو عکاسي کوي او کوم چې په دې وجه د فلسفيانو د دماغ نه په تيار شکل کښې نهٔ راټوکېږي۔


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د فلسفې او د نورو سائنسونو تعلق

دلته دا خبره هم د ذکر قابله ده چې نور سائنسونه او علمونه لکه طبعي سائنسونه مثلاً طبعيات، کېميا، د ستورو علم وغېره يواځې د فطرت د يوې برخې راز معلوموي او د معاشرې سائنسونه لکه سياسيات، معاشيات، اخلاقيات، تاريخ وغېره د بني ادموو د ژوند او عمل په يو خاص اړخ بحث کوي. فلسفه د دې دواړو قسمه سائنسونو تعميم.....او جمع ده. يعنې فلسفه د سالم کائنات او معاشرې هغه عام اصول بيانوي د کوم په ذريعه چې دوي ارتقاء کوي. په دې وجه فلسفه د نورو سائنسونو برعکس د فطرت، د معاشرې د بنيادمو د سوچ د عامو اصولو يو سائنس دے. د مثال په طور که ټول کائنات مونږه ځنګل اوګڼو. نو نور علمونه که د دې ځنګل په بېله بېله ونه بحث کوي نو فلسفه د سالم ځنګل اصول بيانوي. خو د دې نه دا نۀ دي ګڼل پکار چې ګني د فلسفې د نورو سائنسونو سره خپلو کښې څۀ تړون نشته. بلکې د يو رښتنوې فلسفې بنياد په نوي سائنسي بنيادونو ولاړ وي. او په بدل کښې دغه علمونو له د هغوي د نورې ودې د پاره خوراک ورکوي. يعنې د سالمې دنيا او معاشرې په باره کښې يو اوچت د سائنس نقطه نظر ورکوي. او په دې وجه دا يو زبردست قوت لري.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د فلسفې ځائے سائنس نیسي

د انساني معاشرې په ابتداء کښې چې نور سائنسونه په خړپوسو وو. فلسفې به د علم په مېدان کښې یواځې بادشاهي کوله خو د معاشرې د پېغلتوب سره سره سائنسونو هم ترقي وکړه او د ځوانئ دور پرې راغې نو د فلسفې او د نورو سائنسونو په مېنځ کښې تفاوت ورو، ورو کمېدو او یو بل سره ئې سلېخ سېوا کېدو. عن تر دې چې د موجوده ماده پرستئ او جدلي مادیت په دور کښې سائنسونو ته د اوچتې فلسفې ضرورت پاتې نۀ شو. ځکه چې هر جدا سائنس د سالم څیزونو په ځنګل کښې خپل پوزیشن صفا کړو او د یو یو څیز په باره کښې ئې زمونږ علم پوخ کړو. او د یو خاص سائنس یعنې د فلسفې سائنس کوم چې دې سالم ځنګل سره تعلق لري. یو سېوائي شے اوګرځېدو. نن جدلي مادیت په حقیقت کښې نوره یوه فلسفه پاتې نۀ شوه. بلکې دا د دې دنیا په باره کښې یو ساده تصور دے. د کوم جائز مقام چې اوس د سائنسونو د یو سائنس کوم چې جدا وجود لري یعنې د فلسفې په ځائے په طبعي سائنسونو کښې دے. فلسفه په دې وجه ختمه هم شوه او بچ هم پاتې شوه. د صورت په حقله ختمه شوه. او د معنیٰ په لحاظ اوساتلې شوه.

نن مونږ د ګېر چاپېره دنیا د فطرت، د فطرتي څیزونو د هغوي د یو بل سره د تعلق او د هغوي د حرکت د لاړو چارو تصویر د فلسفې د



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

فرضياتو په ځائے د طبعي سائنسونو د څېړونو نه راکاړو. دا ټيک ده چې دا تصور به دومره مکمل او پوره نۀ وي. څومره چې پکار دے او چونکې د قدرت کارخانه کښې رنګا رنګ او نۀ خمېدونکې سلسلې موجودې وي. نو څۀ نه څۀ څيزونه به د همېشه د پاره نامعلومه وي. په دې وجه سائنسي معلومات به هم همېشه نيمګړي وي. خو د دې نه دا مطلب نۀ را اوځي چې ګني مونږ د دې سائنسي علم د خالي ځايونو ډکول د فرضياتو په ذريعه اوکړو. صرف تجربه بيا تجربه او بيا تجربه داسې يو څيز دے چې دا خالي ځايونه ډکولے شي او د خارجي حقيقت او د سائنس پوره پوره سمون راوستے شي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د کائنات باره کښې د جدا جدا نظریو وجه څۀ ده؟

د بېلو بېلو خلقو د کائنات په باره کښې نظرئې او خیالات بېل بېل دي. څۀ سائنسي او څۀ غېر سائنسي. صرف هغه فسلفه په یو بنیادم کښې د قام او وطن مینه پېدا کولے شي او پوهه ورکولے شي. کومه چې د دنیا په باره کښې یو سائنسي نقطه نظر لري. لکه یو سړے چې د قام او وطن د ازادۍ او څوکالۍ د پاره جنګېږي. نو هغه د ژوند د ازادۍ او څوکالۍ په معنٰی پوهېږي په کومه معنٰی چې استعار (سامراج) سرمایه دار او د لوئے زمکې مالک (جاګیر دار) نۀ پوهېږي.

د دې وجه څۀ ده؟ ښکاره خبره ده چې وړومبے دا کتل ضروري دي چې د سړي په ژوند کښې او معاشره کښې حېثیت څۀ دے؟ ځکه چې تاریخ دا ښائي:

" چې هر کله چې په معاشره کښې طبقې موجودې وي نو د هغوي خیالات به هم جدا جدا وي. د دې د پاره په طبقاتي معاشره کښې خیال او یو فلسفه نۀ شي کېدے. دا به بېله بېله وي. د مالدار بېله او د نادار بېله. او دا ځکه چې فلسفه د یو طبقې وینزه وي او د هغې خدمت کوي. او بیا په تېره تېره چې دا طبقې داسې وي چې په خپلو کښې ئې سخته کشاله روانه وي. فلسفه غېر جانبداره او د طبقو نه



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوچته پاتې کېږي نهٔ شي. فلسفه يو جانبداره څيز دے د دې بنياد په طبقه يا په پارټۍ ولاړ وي او هم د هغې سندرې وائي. هم هغه بچ کوي. او هم دغه وجه ده چې د تاريخ په هر دور کښې جدا جدا طبقو د فلسفې په اوچت کړي سوالونو باندې سختې غرزې پرزې کړې دي. په غتو ټکو کښې دا ډلې دوه (۲) دي. د خيال پرستۍ طاقتونه او د ماده پرستۍ طاقتونه.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## فلسفي د یو طبقې سوچ لرونکے استاذے وي

دلته به دا خبره تاسو ته عجیبه غوندې ښکاري چې فلسفه څنګه د یوې طبقې یا پارټۍ خدمت کوي؟ فلسفه خو د طبقو نه اوچته د رښتیاؤ په تلاش کښې ګرځي او حقیقت بیانول د دې وظیفه ده. نو پکار دي چې لږ په تفصیل سره په دې بحث اوشي.

د کله نه چې معاشره په طبقو کښې وېشلې شوې ده او دا د ډېر پخوا نه وېشلې شوې ده. یعنې په هغه ټول تاریخي دور کښې د کوم نه چې د فلسفې تاریخ شروع کېږي نو تر دې وخته پورې هغه ټول نظریات کوم چې په معاشره کښې چالو دي. د جدا جدا طبقو د نقطه نظر اظهار کوي. دا ځکه چې یو فلسفي د معاشرې نه جدا سوچ کولے نۀ شي.

یوائې خو نۀ هغه ژوندې پاتې کېدلے شي او نۀ څۀ عمل کولے شي او په دې وجه هغه د طبقاتي مفادو نه ځان نشي ژغورلے ( )

فلسفي د یو طبقې سوچ لرونکے استاذے وي. هغه بل څۀ کېدے نۀ شي ځکه چې فلسفیان څۀ د بلې دنیا خلق نۀ وي بلکې د دې خاورې او خټې نه پېدا بندیان وي. که د هغۀ خوښه وي او که نه. هغه به دې بنیاد موسره استوګنه کوي کوم چې په طبقو کښې وېشلي شوي دي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او طبقاتي مبارزو (جګړو) کښې اخته وي ـ د فلسفیانو ژوند به لازماً دې طبقو کښې یوې طبقې سره تړلې وي ـ د دې د پاره که فلسفیان د خپل ځان په باره کښې هر څهٔ هر څهٔ وائي خو حقیقت دا دے چې داسې فلسفه نشته په کومه کښې چې د طبقاتي نقطه نظر رش (ګډون) نهٔ وي ـ یا غېر جانبداره وي ـ یا په طبقاتي مبارزو کښې (جګړو کښې) د طرفدارۍ مخالفه وي ـ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# فلسفه او طبقات

د دې نۀ دا هم معلومېږي چې په طبقاتي معاشره کښې د فلسفې حاجت دواړو ډلو ته یو شان پېښېږي. د حاکمانو ډلې ته هم او د محکومانو ډلې ته هم. خو لکه څرنګ چې د پخوا نه تر اوسه پورې معاشره د حاکمانو ډلې زیر کړې ده، هم دغه رنګ له په فلسفه اؤ خیالاتو هم د دوي بادشاهي راروانه ده او د هغوي د مفادو بچاؤ په هر شکل شوے دے. د دې نه دا نتیجه هم را اوځي چې نن که په معاشره کښې، لاندې طبقه، پربوتې طبقه، محکومه طبقه او خواري کښه طبقه د معاشرې د مشرۍ نیت لري نو ضروري ده.

" چې د حاکمې او لوټ مارې طبقې د فلسفې په مقابله کښې د خپلې طبقې د نقطه نظر اظهار د فلسفې په شکل اوکړي خواري کښې طبقې له پکار دي چې دوي د ځان او د خپلې طبقې پوهه حاصله کړي. او د خوبونو په ځائے سائنسي سترګې اوغړوي او د یو کامیابې مبارزې د پاره د خپل ځان سره هغه ټول قوتونه، هغه ټول زیار ایستونکي مشقتیان او غم زپلي خلق راغونډ کړي او د یو سر لښکر په حېثیت دې دوي ته لار سمه کړي چې ټول خلق د زور زیاتي او جبر نه خلاص کړي. او انسان د بل انسان د ظلم او لوټ مار نه ازاد کړي. نن دا ټول کارونه خواري کښې طبقې ته ارزان او اسان ځکه دي چې نن په دنیا کښې د خواري کښې طبقې فلسفه او سائنس وجود لري. هغه سائنس او فلسفه د کوم په ذریعه چې په



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کروړونو خلق نن د انسانيت ژوند تېروي او د يو داسې معاشرې په جوړولو کښې بوخت دي چې په کومه معاشره کښې بېخي طبقې نۀ وي۔ دې فلسفې ته جدلي ماديت وائي۔ او دا سائنس "مارکسېزم او لنېنزم" ګڼلے شي۔

د دې فلسفې او د دې سائنس په نزد که خواري کښه طبقه که چرې دا پوره ته ذکر شوے خپل نېک مقصد ترګوتو کول غواړي نو هغوي به په لازمي طور ځان يوه پارټۍ کښې راغونډوي۔ بغېر د خپلې پارټۍ او خپل سياست نه هغوي ګټه نۀ شي کولے۔ نۀ دا د سرمايه دارۍ نظام ختمولے شي او نۀ د دې په ځائے د دې نه بهتر سوشلټي نظام راوستے شي۔ د دې پارټۍ به د نورو سرمايه دارو پارټو په مقابله کښې ځان له بېل وجود وي۔ ځان له به ئې خپل تنظيم وي۔ او ځان له به ئې خپله نظريه او فلسفه وي۔ دا پارټي به د زيار ايستونکو، مشقتيانو غم زپلو او خواري کښو کښې د پوهې او د اوچتو دماغو د خاوندانو نه جوړه وي۔ دا به د خواري کښې طبقې کُچ وي۔ او دا به يوه داسې ټوره وي د کومې په ذريعه چې به خواري کښه طبقه سياسي او رياستي اقتدار تر لاسه کوي۔ او ورسره ورسره به د ظلم مېچنې ماتوي او يو غېر طبقاتي معاشره به قائمه وي۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د خواري کښې طبقې دا پارټي به د داسې اوچت کردار ساتلو جوګه هله کېدے شي چې ذوي سره يو سائنسي علم وي، پوهه وي او يوه اوچته نظريه وي. په نورو ټکو کښې دې پارټۍ سره به يو انقلابي

سوشلټي نظريه وي، د کومې په رڼا کښې به چې عمل کوي. او خپلې پاليسۍ به جوړوي. او په بدل کښې به د خپلو ازمودو او عمل په لعلونو د دغې نظرئې خزانه نوره ډکوي. د مودو تجربه دا ثابتوي چې يو انقلابي پارټۍ ته د انقلابي فلسفې ضرورت وي ځکه چې که خواري کښې طبقې خپله يو انقلابي فلسفه تر لاسه نۀ کړه نو دوي به هرو مرو د مخالفې ډلې د پردۍ طبقې غېر انقلابي فلسفه، خيالات او نظرئې قرض اخلي او دغسې خپل مقصد ته به سخت نقصان رسوي.

که چرې خواري کښه طبقه دا غواړي چې هغه دې د انقلاب واګې په خپل لاس کښې واخلي او اولس ته دې لار سمه کړي نو د مخالفې طبقې فلسفې ته او د دغې فلسفې لاندې جوړې شوې پاليسو ته به لته ورکوي. او د هغې په ځائے به خپله فلسفه راټينګوي. د هغې ساتنه به کوي. او هم د هغې ډول به غړوي. دلته يو سوال پېدا کېږي چې که فلسفه مونږ يو طرفدار څيز اوګڼو نو هغه رښتونې څنګه کېدے شي؟ رښتيا خو رښتيا وي که د چا په کښې ګټه وي او که تاوان.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## فلسفه او غېر جانبداري

اصل کښې خبره دا ده چې د عامو خلقو دا يو عقيده شان جوړه شوې ده ـ چې که د فلسفې باره کښې يو طرفدار او طبقاتي نقطه نظر اولرلے شي نو دا به د رښتياؤ نه مونږ لرې باسي او بل طرف ته که په حقيت کښې څوک رښتيا معلومول غواړي نو هغوي له پکار دي چې د هيڅ قسمه طرفداري اونهٔ کړي. خو په اصل کښې معامله د دې اپوټه ده مونږ هله رښتياؤ ته نزدې کېدے شو کله چې مونږ تاريخي طور سره د اوچتې ترقي يافته طبقې د خواري کښې طبقې د راتلونکي وخت د طبقې يعنې د مزدورانو د طبقې د پاره يو طرفدار نقطه نظر اوساتو د هغې دوه (۲) وجې دي۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د خواري کښې طبقې فلسفه رښتونې ده

يوه وجه دا ده چې د خواري کښې طبقې نه علاوه هغه نورې ټولې طبقې چا چې په خواري کښو بادشاهي کړې ده، د لوټ مار او د ظلم طبقې دي ـ دې طبقو پرته لۀ دې که هر څومره ترقي راوستې ده ـ کارخانې ئې لګولې دي، بجلي ئې پېدا کړې ده، کاريګري او هنر ئې زيات کړے دے ـ خو دوي خپل اصليت او خپل مقصد د خپل ځان نه او هغې خلقو نه د چا چې دوي لوټ کوي ـ په څۀ نه څۀ طريقه د پټ ساتلو کوشش کړے دے او په خلقو ئې دا ښکاره کړې ده چې د دوي بادشاهي په حقه او مستقله ده ـ لکه يو غل چې غلا کوي نو هغه چرې هم دا نه وائي چې هغه غلا کوي يا غل دے او که داسې اووائي نو هغه بيا نوره غلا نۀ شي کولې ـ د دې د پاره هغه به ارو مرو دروغ وائي او خپل اصليت به پټ ساتي ـ ځان له به هم دوکه ورکوي او خلقو له به هم سترګې توروي ـ خو خواري کښې طبقې ته خپله فلسفه کښې د داسې دروغو وړاندې کولو هيڅ حاجت نشته ـ ځکه چې هغه لکه د نورو طبقو د لوټ مار د يو نظام په ځائے بل د لوټ مار نظام نۀ راولي ـ بلکې خواري کښه طبقه خو د هر قسمه لوټ مار ختمول غواړي ـ د يو بنيادم د لاسه د بل بنيادم استحصال ختموي ـ او په دې وجه د خواري کښې طبقې د مفادو دا تقاضه ده چې يو څيز د پټونې په ځائے داسې ښکاره کړي څنګه چې هغه په اصليت کښې موجود دے ـ دا ځکه چې څومره زر هغه په رښتياؤ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قابو مومي نو هغه هومره هغه خپل جدوجهد کښې لا مضبوطېږي.
او خپل مقصد ته زياته نزدې کېږي.

ظالمې طبقې خو خپل ظلم له جواز ګوري. مظلومې طبقې د ظلم نه ځان بچ کوي. نو ځکه ظالمه طبقه د خپل ظلم په جواز کښې دروغ وائي. مظلومې طبقې ته د دروغو ضرورت نشته. هغه خو خبره په ډاګه وائي.

دويمه وجه دا ده چې نورې طبقې د همېشه راسې دا ارزو لري چې خپل ژوند تر خپله وسه اوږد کړي او په دې وجه هغوي د فلسفې داسې يو نظام وړاندې کولو کښې غرضيان وي يا ئې مرسته کوي. کوم چې دوي له په دنيا کښې په معاشره کښې يو مستقل حېثيت ورکوي. دوي د کائنات، د فطرت د څنې څيزونو داسې تعريف کوي چې هغه ضروري، ابدي او نۀ بدلېدونکي دے. او بيا ترېنه دا نتيجه راوباسي چې يو خاص معاشرتي نظام د سالمې معاشرې يو ضروري او مستقله برخه ده.

د مثال په طور د زړې زمانې د ټولو نه لوئې فلسفي ارسطو دا وائي چې د غلامۍ اداره يو خطري څيز دے ولې چې څنې خلق فطري غلامان پېدا شوي دي. ظاهره ده چې په دې وئيلو ارسطو د هغې وخت د يونان د حاکمې طبقې طرفداري کوله. او د هغوي هغه نظام ئې رښتونې او په حقه ثابتوۀ. د کوم نظام بنياد چې په غلامۍ ولاړ وو. او په کوم کښې چې يو سړي به په سوونو او زرګونو خلق



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غلامان ساتلے شو ـ د غلامانو په ټول ژوند به د هغوي د مالکانو قبضه وه ـ عن تر دې چې د هغوي د وژلو واک به هم هغوي ته حاصل وو ـ دغه د غلامۍ نظام کښې د يو غلام او يو څاروي يا ډنګر په مېنځ کښې هيڅ تميز به نۀ شو ساتلے او نۀ اوزارو او غلامانو کښې څۀ فرق ګڼلے شو ـ غلام ته ئې د خبرو والا اوزار وې، او اوزار به ئې ګونګيان غلامان ګڼل ـ دلته لوئے فلسفي ارسطو د خپل زړۀ او د بې وسه غلامانو د زړونو سرېکې د خپل شېطاني عقل په ذريعه د مالکانو د مفادو په زنځيرونو د تړلو کوشش کړے دے ـ

د تاريخ په مېنځني دور کښې چې د خانۍ يعنې فيوډالي او جاګير دارانه نظام ښۀ په عروج کښې ؤ نو د هغې وخت د ټولو نه لوے فلسفي تهامس آيکوينس خپله فلسفه کښې ټول کائنات ته د فيوډالي نظام جامه اغوستې وه ـ دې فلسفي څيزونو له داسې يو ترتيب ورکړے وو په کوم کښې چې ملک الموت او نورو لويو فرښتو په چاپېرچل کښې خدائے پاک د ټولو نه اوچت ناست دے ـ او نور ټول څيزونه د هغۀ يو بل پسې ښکته او د يو بل تابع دي ـ په دغه لړۍ کښې هر څيز د ځان نه په اوچت څيز تکيه لري او د خدائے پاک د مرضۍ نه خلاف يو څيز هم وجود نشي لرلے ـ د دې فلسفې چې په معاشره اطلاق اوشي نو د هغې وخت د فيوډالي کليسائي بادشاهۍ د لړيز نظام ضرورت او ابديت ترې څرګندشي ـ په فيوډالي بادشاهۍ کښې هم بادشاه د ځان نه په لاندې څيزونو



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باندې حکومت کوي. او ځان د خدائے پاک سپورے ګڼي. د هغهٔ قانون د هغه مرضي وي. او کوم کار چې هغه نهٔ غواړي هغه نشي کېدے. د فیوډالي نظام په لړۍ کښې زرعي غلام یا مزارع د ټولو نه لاندې وي او بادشاه د ټولو نه بره وي. هم دغه رنګ له یو پادري یا د دین عالم د کلیسا په بادشاهۍ کښې د ټولو نه اوچت سړے وي. او ځان د خدائے پاک نائب ګڼي او نور ټول خلق د هغه تابع وي. لکه د قادیان مرزا اغه خان وغیره.

د جاګیرداری یا فیوډالۍ نظام نه پس چې د سرمایه دارۍ وار راغے نو دې ټولې هغه فیوډالي کړۍ ماتې کړې او د هغې په ځائے ئې د یو بنیادم او بل بنیادم په مېنځ کښې ښکاره د ذاتي ګټې او د کالدارې روپئ یوه کړۍ اوساتله.

د دې نوې سرمایه دارې طبقې د فلسفې په نزد دنیا د ازادو وړو، وړو ذرو یا اېټمونو نه جوړه ده. هره ذره پخپل ځائے پوره ده او د خپل ځان نه چاپېره ګرځي. او بیا ټولې ذرې یو بل سره تړلې وي. دا د سرمایه دارې معاشرې یو ائینه ده، کومه کښې چې سرمایه داره طبقې پېغلتوب دنیا ته کتل. د معاشرې په نظام کښې د دې فلسفې په زور هغوي دا ثابتول غوښتل چې سرمایه دار او مزدور یو برابر دي. دې کښې هر یو یوه ازاده ذره ده. د خپل ځاني مفادو نه چاپېره چورلي او بیا یو بل سره ښهٔ په رضا یو معاهده کښې تړلي دي. د کومې لاندې چې یو خوازي کوي او بل ورله مزدوري ورکوي،



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرمايه ورکوي. په دې قسم خيالاتو خورولو سرمايه دار طبقې ګټه هم اوکړه ځکه چې هغوي خپل د بادشاهۍ قابو کولو او د منافع حاصلولو مقصدونه دې فلسفه کښې پټ ساتلي وو. نن چې سرمايه دار نظام پوخ شوے دے او د خپل خپل وطنونو نه ئې ښې نورو ملکونو ته غزولې دي. او يو استعماري (امپيرياليستي) دور کښې شامل شوے دے او درنګ ساعت له ختمېدونکے دے. نو هغوي د خپل ځاند ژوندي ساتلو تابيا په نوي رنګ کښې کوي. دې ځل له هغوي د خپلو دروغو بنياد په نوي طبعياتو باندې ايښے دے. مخکښينو سائنسدانانو د مادې بنياد ذره يا ايټم ګڼۀ او دا ئې يو نۀ بېلېدونکے څيز ګڼۀ. په دې رنګ هغوي د سرمايه دار نظام ابديت به ترې ثابتوۀ او هر کله چې ذره يا ايټم په نوي دور کښې بېل کړې شو، تقسيم کړې شو. نو د حاکمې استعماري طبقې سره تړلي فلسفيانو، سائنسدانانو او اديبانو سمدستي دا دروغژن خيالات خورول شروع کړل. چې ماده ختمه شوه. د مادې وجود پاتې نۀ شو. يوائې قوت وجود لري نور هر څۀ وجود نۀ لري. حالانکې د قوت تصور بغېر د مادې نه ناممکن دے. لکه څرنګ چې د مادې تصور بغېر د قوت نه نشي کېدے. د خيال تصور بغېر د دماغو نه څنګه کېدے شي؟ اوس که مونږ خيال راټينګ کړو او بيا دا چغه کړو چې دماغ ختم شو نو ايا دا به مونږ رښتيا وايو؟



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اصل کښې په دې طريقه استعمار چيان او د هغوي بچې د ځان بچاؤ کوي. او د خپل دښمنانو يعنې د خواري کښانو او د ازادۍ د پتنګانو په زړونو کښې د خپلې انقلابي فلسفې جدلي ماديت نه د کرکې پېدا کولو کوشش کوي او په ماده پرستۍ ختې نولي او په نظرياتي ډول هغوي بې وسلې کول غواړي. د هغوي د ګټې يقين په شک کښې بدلوي. او د سرمايه دار نظام غورځېدونکي عمارت نه د رجعت او خيال پرستۍ اړمونه ورکوي. او په نتيجه کښې خپل نظام او طبقې له نور اوږدوالے ورکول غواړي.

د دې په مقابله کښې خواري کښې طبقې ته د داسې فلسفيانه نظامونو وړاندې کولو ضرورت نشته. په کوم کښې چې د دروغو ابديت پټ پروت وي. ځکه چې خواري کښه طبقه د طبقې په شکل ځان نور ژوندې ساتل نۀ غواړي او يو داسې معاشره جوړول غواړي کومه چې د طبقو نه پاکه وي. د هغوي د طبقې د معيشت او مقصد دا غوښتنه ده چې د کائنات يو داسې رښتونې تصور راکاړي. په کوم کښې چې هر وخت بدلون روان دے. هر وخت څيزونه پېدا کېږي. او فنا کېږي او ابديت هيڅ شي لره نشته.

په دې وجه د خواري کښه طبقې د فلسفې دا دعویٰ په حقه ده چې هغه رښتونې ده او نورې فلسفې دروغژنې دي ځکه چې دا فلسفه يواځې داسې فلسفه ده د کومې چې دا غوښتنه ده چې مونږ دې څيزونه داسې اوګنو. څنګه چې هغه په اصليت کښې موجود دي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او هغه ټولې رنګ په رنګ تبديلۍ او رشتې کومې چې په سالم څیزونو کښې موجود دي بغېر د پټونې حقيقي طور سره څرګند کړو. دا فلسفه د دنيا د بدلولو په غرض د دنيا د پوهې لټون کوي ځکه چې "تر اوسه فلسفيانو په بېله بېله جامه کښې يوازې د دنيا تشريح کړې ده. هر کله چې سوال د دې د بدلولو دے" او په دې وجه دا د يوې طبقې د تنګ نظرۍ برخلاف د عام اولس په لاس کښې هغه نظرياتي وسله ورکوي. کومه چې به هغوي د دنيا، د معاشرې، د بدلولو په غرض استعمالوي. او خپله دعویٰ به رښتيا ثابتوي.

د پورتني ټول بحث نچوړ دا دې چې د ژوند متعلق، د سالم کائنات متعلق، او د يو بنيادم د بل بنيادم سره او د باقي دنيا سره د تعلق په باره کښې چې د پوهې عام اصول اوتراشلے شي نو عام طور سره هغې ته فلسفه وائي. د هر سړي په ذهن کښې څۀ نه څۀ فلسفه پرته وي. او يا د فلسفيانو د خيالاتو نه ئې اثر اخستې وي. خو د هغۀ دا نۀ وي زده چې بحث پرې اوکړي. او يا ئې راغونډه کړي. د دې په مقابله کښې د فلسفې خاوند د دنيا په باره کښې د يو خاص وخت د خلقو دغه عامې او تتې عقيدې او رائې ګانې يو لړۍ کړي. او په ترلې او يو بل سره ګنډلې اصولو کښې ئې بدل کړي. د يو فلسفي ټولې نظرئې اصلي نۀ وي. بلکې د يو خاص وخت د معاشرتي عمل او معاشي رشتو عکسونه وي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

طبعي سائنسونه د فطرت د جدا جدا برخو مطالعه کوي او د معاشرې سائنسونه د بنيادم د ژوند او د هغۀ د عملونو په بېلو بېلو اړخونو بحث کوي. فلسفه د سالم کائنات او معاشرې عام اصول بيانوي. فلسفه او نور سائنسونه په يو بل تکيه لري. او د يو بل مدد کوي او نن د فلسفې او سائنس تفاوت ډېر کم شوے دے. فسلفه او سائنس بالکل يو شې دے او جدلي ماديت خو نوره فلسفه هډو پاتې نۀ ګڼي. بلکې د فلسفې ځائے طبعي سائنسونو له ورکوي.

په طبقائي معاشره کښې يو خيال او يوه فلسفه نۀ شي کېدے دا به بېله بېله وي. د مالدار بېله او د نادار بېله. ځکه چې فلسفه د يو طبقې خدمت کوي. فلسفه نۀ يو غېر جاندار شے دے او نۀ د طبقو نه اوچته او ناغرضه ځان ساتلے شي. د دې بنياد په طبقه يا پارټۍ ولاړ وي. او فلسفي د يو طبقې سوچ لرونکے استاذے وي. ځکه چې هغه دې معاشره کښې پېدا وي هغه به ارو مرو يوې طبقې سره رشته ساتي او د هغې د مفادو بچاؤ به کوي.

حاکم طبقې او محکوم طبقې ته د فلسفې ضرورت يو شان پېښېږي او په معاشره کښې د حاکمې طبقې د فلسفې بادشاهي د پخوا نه راروانه ده او د هغې د مفادو ساتنه شوې ده.

په دې وجه نن محکومه خوارې کښه طبقه که د مشرۍ څۀ خواهش لري نو خپله انقلابي سوشلتي فلسفه به وړاندې کوي خپل ځان به



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پېژني او يوه داسې پارټۍ کښې به ځان رانغاړي کومه چې به په سياسي، تنظيمي او نظرياتي ډول د نورو پارټو نه جدا او ازاده وي او بيا د دې پارټۍ د لاندې به ټول زيار ايستونکي او غم زپلي خلق راجمع کوي. او د کاميابې مبارزې يا جنګ نه پس به سياسي او رياستي اقتدار تر لاسه کوي. لوټ مار به ختموي. د لوټ مشين به ټوټې ټوټې کوي. او يو بهتر سوشلټي نظام به قائموي.
عام طور سره خلق دا ګڼي چې فلسفه رښتيا هله معلومولے شي هر کله چې هغه طرفداري نۀ کوي. خو په اصل کښې معامله د دې اپوټه ده رښتياؤ ته به مونږ نزدې کېدے هله شو چې د خوارې کښې طبقې د پاره يو طرفدار نقطه نظر اولرو. ولې چې تر اوسه پورې د خوارې کښې طبقې نه زياتي طبقو خپل اصليت او مقصد د ځان او د اولس نه د پټ ساتلو په غرض د دروغو فلسفيانه نظامونه وړاندې کړي دي او په بدل رنګ کښې ئې ځان ښودلے دے. د دې د پاره چې لوټ جائز وګرځوي او خپله بادشاهي قائمه وساتي. د دې مقابله کښې خواري کښه طبقه لوټ څۀ چې په هر شکل کښې لوټ او ظلم او ورسره د لوټ او جبر لويه ونه سره د جرړو وباسي. د طبقې په حېثيت خپل ځان نور ژوندے ساتل څۀ چې زر تر زره خپل وجود ختمول غواړي او د طبقو نه پاکه يوه معاشره جوړول غواړي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او هم په دغه وجه د کائنات د ټولو څيزونو داسې تصوير راکاږي څنګه چې هغه په اصليت کښې موجود وي. او هغه ټولې رنګا رنګ تبديلۍ او رشتې کومې چې په څيزونو کښې موجود وي بغېر د پټونې حقيقي طور سره څرګندوي. د نورو فلسفو په مقابله کښې چې دنيا صرف تشريح کوي. دا فلسفه د دنيا او معاشرې د بدلولو په غرض د دنيا او معاشرې د پوهې لټونه کوي. او په دې وجه د دروغو او تنګ نظرۍ برخلاف د سچائۍ اعلان کوي او د عام اولس په لاس کښې د حقيقت يو بل مشال ورکوي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# خيال پرستي او ماده پرستي

خيال پرستي او ماده پرستي د فلسفې او سائنس دوه جدا جدا اسطلاحونه دي. خو اکثر خلق څوک په ناپوهۍ او څوک د قصده د دې دواړو اصطلاحاتو ډېر غلط او عاميانه تشريح کوي. او دا مشهوروي چې لکه ماده پرست هغه سړي ته وائي څوک چې خود غرضه وي. د خېټې غلام وي. سخت شرابي وي، اوږ سترګې وي. شوم او لالچي وي، ښکلا ته په بده سترګه ګوري مينه بدن سره لري. مغرور او کبرجن وي. خپلې ګټې پسې ګرځي او هغه د چا خبره چې هغې نورو ټولو کارونو ته وائي کوم چې يو واعظ په خلوت کښې کوي. بل طرفته خيال پرست هغه سړے ګڼي څوک چې د يو نېک مقصد د پاره قرباني ورکوي. يا د اوچت خيال د پاره بې پېسې بې ټکې خدمت کوي. د خلقو ښېګړه لټوي، او هغه ټول کارونه کوي د کومې لافې چې يو واعظ د خلقو په مخکښې کوي.
خو د داسې قسم خبرو تعلق هغې اصلي فرق سره نشته کوم چې په ماده پرستۍ او خيال پرستۍ کښې موجود دے ځکه چې په عام ژوند کښې مونږ وينو ګورو چې يو سړے به د خيال پرستۍ دعوی لري خو د هغۀ ټول کارونه به د بدۍ او بل سړے به ماده پرسته وي. خو د هغۀ کارونه به ټول د نېکۍ وي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د خيال پرستۍ او ماده پرستۍ اصلي اختلاف

نو بيا د خيال پرستۍ او ماده پرستۍ اختلاف په څۀ د ے؟ د دوي ېبلتون په يوه بنيادي مسئله باندې راځي. مسئله دا ده چې په دنيا کښې دوه قسمه څيزونه دي يو خارجي او بل داخلي. هغې څيزونو ته کوم چې د انسان د ذهن نه ازاد او بهرپراتۀ دي لکه کاڼي، بوټي، ستوري، سپوږمۍ وغېره. دې ته خارجي څيزونه وائي. دويم هغه څيزونه دي کوم چې د بنيادم په ذهن کښې دننه وي لکه خيال، اراده، او خواهش وغېره. دې ته داخلي څيزونه وائي. خارجي څيزونو ته ماده وائي، داخلي څيزونو ته خيال يا روح وائي. اوس سوال دا دې چې د مادې او خيال په مېنځ کښې څۀ تعلق د ے؟ کوم څيز وړاندې د ے. ماده که خيال؟ په نورو ټکو کښې مادي دنيا وړومبے ده که خيالي دنيا؟ دا د يو فلسفې د پېژندلو د پاره د مسئلې يو اړخ د ے. دويم اړخ ئې دا د ے چې ايا بنيادم د دې څيزونو پوهه حاصلولے شي که نه؟ د دې سوالونو په حقله د بېلو بېلو خلقو رائې بېلې بېلې دي او په دې وجه چې غټ حساب دوؤ ډلو کښې وېشلې شوې دي. څوک چې ماده خارج کښې مني. د خيال نه ئې وړاندې په وجود کښې ګڼي او خيال د دې عکس مني او



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا ئې خيال دے چې د دنيا د هر څيز علم حاصلېدلے شي نو دوي ته
ماده پرست وائي د دې الته چې څوک دا عقيده لري چې خيال د
مادې نه اول دے او په اخري نتيجه کښې ماده په يو شکل يا بل
شکل کښې د دې پېدا وښت دے او د دنيا د څيزونو پوره پوره پوهه
نشي حاصلېدے نو دا خلق خيال پرست دي.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د خیال پرستۍ قسمونه

د خیال پرستۍ دوه قسمونه دي یو ته خارجي خیال پرستي وائي او بل ته داخلي خیال پرستي وائي د ځنې خیال پرستو دا خیال دے چې د دنیا د پېدائش نه وړومبے خیال کوم چې څیزونه په وجود کښې راولي - په خارج کښې موجود دے - په دې وجه دوي ته خارجي خیال پرستان وائي افلاطونؔ یا هیګلؔ وغېره د دې ټولي نه دي۔

داخل هغه شے دے کوم چې ځاني په بنیادم کښې، په کس کښې موجود وي برکلےؔ وائي چې یوائځې بنیادم یوائځې داخل او یوائځې شعور په حقیقت کښې وجود لري۔ څیزونه هغه وخت په وجود کښې راشي کله چې د بنیادم حواس ئې محسوس کړي۔ که داسې اونهٔ شي نو بیا د څیزونو وجود نشته د وجود معنٰی محسوسات ده۔ څیزونه یوائځې د محسوساتو مجموعه ده۔ د دې معنٰی دا شوه چې د انسان حواس څیزونه په وجود کښې راولي۔ هر وخت ئې راولي او بیا بیا ئې راولي۔ د خیال پرستۍ دې شکل ته داخلي خیال پرستي وائي۔

په لنډو ټکو کښې مونږ دا وئیلے شو چې د خیال پرستۍ په نزد د مادي دنیا کښې تکیه په روحاني دنیا ده - روح، ذهن یا خیال د مادې نه جدا وجود لرلے شي او لري - (او د داخلي خیال پرستۍ په نزد خو ماده هډو وجود نهٔ لري) او د هغې څیزونو کوم چې سائنس



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

او تجربې معلوم کړي دي ـ نۀ شاته ـ بره لرې دراز يوه نامعلومه بادشاهي وجود لري.

## ماده پرستي

د دې مقابله کښې ماده پرست دا خبره کوي چې دا دنيا د خپل خمير نه مادي ده د هر څيز وجود په مادي بنيادونو ولاړ دے ـ او د مادے د حرکت د قانون مطابق څرګندېږي لوئېږي او فنا کېږي ـ ماده يو خارجي حقيقت دے او زمونږ د ذهن نه بهر او ازاد وجود لري ـ ټول روحاني يا ذهني څيزونه د مادي عمل پېدانښت دے ـ د دنيا او د هغې د قوانينو علم حاصلېدے شي او که هر څو څنې څيزونه لامعلوم نۀ دي خو داسې څيز نشته کوم چې فطرتي طور سره نامعلوم وي.

د خيال پرستۍ او ماده پرستۍ تر مېنځه دا هغه بنيادي اختلاف دے کوم چې دوه نيمو[1] زرو کالو راسې شروع دے ـ دا اختلاف د سالمې دنيا باره کښې د فلسفې عام تصوراتو کښې هم او د يو خاص واقعې يا څيز په تصوراتو کښې هم څرګندېږي.

---

[1] ـ دوه نيم زره کاله څکه چې د هغې نه اخوا مونږ سره څۀ تاريخي مواد نشته



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ماده پرستانو او خيال پرستانو د سوچ فرق

دلته که مونږ يو دوه ساده او عام سوالونه پورته کړو نو بده به نۀ وي. د دې نه خو به يو دا معلومه شي چې ماده پرستي او خيال پرستي دې سوالونو ته په کومه سترګه ګوري او په دې د ځان پوهه کولو کومه لار اختياروي او بله دا چې د دواړو جوابونه به د دوي د اختلاف اهميت هم څرګند شي.

وړومبے به د فطرت يو مظهر واخلو. زلزلې په څۀ وجه راځي؟ په دې سوال د ځان پوهه کولو د پاره که د خيال پرستۍ طريقه استعمال شي نو د دې جواب به دا وي چې هر کله ګناهونه زيات شي د خلقو عملونه خراب شي نو خدائے پاک د زلزلے په شکل په ذوي خپل قهر رانازل کړي. د دې په مقابله د ماده پرستو سوچ د زلزلې په حقله د دې نه بالکل جدا او بدل دے. د ماده پرستۍ په نزد په دې مزکه کښې دننه بعض څيزونه چې يو بل سره ملاؤ شي نو د هغې نه ګېسونه جوړ شي. دغه ګېسونه بيا بهر ته د راوتلو کوشش کوي. چونکې د هغې د راتلو د پاره څۀ لاره نه وي نو هغه په ډېر زور مزکه اوشلوي. او د هغې سره خوا ؤ شا ټوله مزکه اوجړقېږي. او دغې ته زلزله وائي. دلتهَ به تاسو کتلي وي چې خيال پرستي د زلزلې د تشريح د پاره مادي وجوهات ګوري.

دويم مثال به معاشرې د ژوند نه واخلو. ځنې خلق مالدار او ځنې نادار ولې دي؟ د دې متعلق د خيال پرستو يو لنډ او ساده جواب به



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا وي چې دا د خدائے پاک کار دے د چا په قسمت چې څۀ ليکلي وي هغه به ور رسېږي يا به دا اووائي چې د دې دنيا نظام خدائے پاک داسې جوړ کړے دے چې دې کښې به لاندې باندې خلق ضرور وي څکه که ټول خلق يو شان شي نو بيا د دنيا کارونه به ټول روان پاتې شي - لکه وئيلے کېږي چې په يوه زمانه دا ټول خلق يو شان وو خو يوه ورځ د يوې بوډۍ غريبې ديوال پرېوت نو بيا داسې څوک نۀ وو چې د هغې وهلو ته ئې غاړه اېښودے وے - له دې کبله خدائے پاک دا ضروري اوګڼله چې خلقو کښې فرق راولي - هله به د دنيا نظام په ښۀ شان چلېږي - که د دې نه ورپسې لږ نور وړاندې لاړ شو نو يو خيال پسرت به دا اووائي چې ځنې خلق مالدار څکه وي چې دوي عقلمند وو ډېر لرې نظر ئې لګېدو جمع ئې کوله نو څکه مالدار شو او کوم خلق چې نادار او خوار دي هغه کم عقل او لاپروا بنديان وو د سبا غم ورسره نۀ وو لګېښنت به ئې زيات کولو نو څکه غريبان شو - په نورو ټکو کښې دوي يو مستقل انساني فطرت د غريبۍ او مالدارۍ ذمه وار ګرځوي - دلته به هم تاسو کتلي وي چې لکه د زلزلې په مسئله د غريبۍ او مالدارۍ په سوال هم خيال پرست د ځنې روحاني وجوهاتو لټون کوي - لکه قسمت يا د خدائے پاک مرضي - يا د انسان د دماغ څۀ پېدائشي خصوصيت ـــ د دې برخلاف ماده پرست دا خبره کوي چې په معاشره کښې مالدار او نادار څکه دي چې ژوند د پاره ضروري د پېداوار ذريعو له په



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

داسې ډول ترتيب ورکړے شوے دے چې څنې خلقو سره مزکې کارخانې يا نورې ذريعې په قبضه کښې دي او باقي خلق د هغوي د پاره کار کوي يو دهقان که هر څومره خواري اوکړي د ځان نه خلولې اوباسي خو هغه به دهقان وي هغه به خوار وي. هغه به لاندې وي. او خان به بې خوارۍ بې مشقته د دۀ په محنت ورځ تر ورځه مالدار ېږي. دلته يو سړے دا وئيلے شي چې يو سړے خان وي، هغه دهقان شي او يو سړے دهقان وي هغه خان شي يا دا هم وئيلے شي چې د مثال په طور ايوبؔ خان د يو عام سړي زوے وو خو چې ځان ئې اوکړولو نو د پاکستان صدر ترېنه جوړ شو او په دنيا کښې به يو مالدار صدر يادېدو. خبره دا ده چې دا صحيح ده چې په طبقاتي معاشره کښې سرمايه دارانه نظام کښې د اتفاقاتو ډېر لاس وي او يو سړے د باندې طبقې نه ښکته طبقې ته راغورځېدلے شي او د لاندې طبقې نه باندې طبقې ته دانګلے شي خو د دې حېثيت انفرادي وي طبقې په حال موجود وي داسې نشي کېدے چې سالمه لاندې طبقه باندې لاړه شي او سالمه باندې طبقه لاندې راشي ګني د پاکستان په کروړونو غريبانو کښې يو ايوب خان يا چند ګسان نور د مثال په طور نۀ پېش کېدۀ.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د ماده پرستۍ او خیال پرستۍ د اختلاف عملي اهمیت

د داسې مثالونو نه ښکاره شي چې د خیال پرستۍ او ماده پرستۍ بنیادي اختلاف په څهٔ دے؟ دا فرق نهٔ یواځې په نظریاتي ډول بلکې په عملي ډول هم ډېر زیات اهمیت لري. لکه د زلزلې په مسئله کښې که د خیال پرستو په خیالاتو پسې لاړ شو نو صرف جامې سنډول به پکار وي چې زمونږ ګناهونه معاف شي او زلزلې بیا نهٔ راځي. د دې په بدله کښې د ماده پرستو په حمایت کښې به مونږ له پکار وي چې د زلزلې د معلومولو الات جوړ کړو یا کوټې او عمارتونه داسې جوړ کړو چې د چې د زلزلې په وخت ترې کم نه کم نقصان راورسي لکه جاپان او نورو ملکونو کښې چې ابادي اکثر د بانسونو نه جوړې وي یا په کوئټه کښې یو چتیز بلډنګونه جوړېږي.

د مالدارۍ او نادارۍ په سوال که چرې قسمت د دې ذمه وار اوګرځوو. نو بیا غریب سړے به صرف د خپل قسمته ګیله من وي او مالدار به خپل عېش تورے کوي او زیات نه زیات که په زړهٔ ئې د رحم اوبه تو ے شوې نو غریب له به څهٔ خېر زکوٰة ورکړي. د دې بر عکس که مادي وجوهات ئې اومنو نو بیا به مونږ د پوره معاشرې بدلون د پاره لارې چارې لټوو چې دا معاشره بدله کړو او د دې په ځائے یو داسې معاشره قائمه کړو چې پکښې د مالدار او نادار تمیز ورک شي.


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د انسان عمل او تجربه خيال پرستي غلطه ثابتوي

خيال پرستي که خارجي وي او که داخلي د انسان عمل دا غلطه ثابتوي ـ وائي چې د داخلي خيال پرستۍ استاذ برکلے يوه ورځ يو دوست سره په سړک روان وو ناڅاپي دوي له يوه لارۍ مخې ته راغله ـ برکلےٓ چې اوليدله نو منډه ئې ترې اووهله هغې دوست ورله اواز ورکړو چې برکلےٓ صاحب ولې تښتې ـ دا خو لارۍ نۀ ده دا خو ستاسو محسوسات دي چې لارۍ ترېنه جوړه شوه ـ

د دې مقابله کښې د بنيادم عمل د ماده پرستو دا خيال صحيح ثابتوي چې څيزونه او د قدرت بېل بېل مظهر په خارج کښې د انسان د ذهن نه ازاد وجود لري دا زمونږ روزمره تجربه ښائي چې نارنج په خارج کښې وجود لري کوم چې مونږ وينو ګورو او محسوسوو ئې او د حلوا وجود د حلوا په خوړلو ثابتېږي ماده پرست فلسفيان د دې بنيادي څيز نه د خپلو نظرياتو شروع کوي بيا ئې تعميم کوي ـ او د دنيا په باره کښې ترېنه يو سائنسي او شعوري فلسفه جوړوي او خلقو ته ئې په دې غرض وړاندې کوي چې هغوي صحيح طور سره د معاشرې واقعات او د قدرت مظاهر اوپېژني ـ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# خیال پرستي د توهماتو مرسته کوي

د خیال پرستۍ او ماده پرستۍ د جګړې نه دا هم معلومیږي چې معاشره په طبقو کښې وېشلې ده څوک د ترقي پسندۍ او څوک د رجعت پسندۍ مرسته کوي ـ خیال پرستي د رجعت پسندۍ حمایت کوي ـ او د سائنس او ماده پرستۍ او ترقي پسندۍ مخالفت کوي ـ خیال پرستي مونږ ته دا خبره کوي چې په سائنس زیاته تکیه نۀ دي لرل پکار ـ ځکه چې سائنس حقیقت نشي معلومولے ـ مادي سائنس لا مکمل نۀ دے ـ نن نظریه قائمه شي سبا بدله شي نو یو نیمګړې سائنس په یو مکمل روحاني سائنس څنګه اواز کولے شي ـ له دې کبله که په حقیقت څوک ځان پوهه کول غواړي نو د روحاني علمانو نه دې لاس نیوۀ اوکړي ـ په دې وجه خیال پرستي د رجعت پرستۍ د پروپېګنډې یو زبردسته وسله ده ـ دا د سرمایه دارانو او جاګیر دارانو د اخبارونو او رېډوانو فلسفه ده ـ او د هر قسم توهم پرستي ئې خوښه ده ـ دا فلسفه مونږ د ځان متعلق د سوچ نه منع کوي ـ او د معاشرې او اقتصادي مسئلو حل د مادي سائنس په ځائے په روحاني سائنس او نفسیاتو کښې لټوي ـ د کوم مثال چې د هغې ړوند سړي دے څوک چې په یوه تیارۀ کوټه کښې د یو داسې تورې پیشو لټون کوي کومه چې د سره هلته هډو موجود نۀ ده ـ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دويمه دا چې د يو خيال پرست په نزد د معاشرې د بدلولو په ځائے مونږ له د ځان اصلاح پکار ده ـ د کُل اصلاح په جُز کښې پټه ده ـ په معاشره کښې خرابۍ د سرمايه دار نظام د پېداوښت په ځائے په دې کښې پټ وي چې زمونږ اخلاق خراب دي ـ مونږ په خپل نفس قابو نۀ د ے مونډلے ددې قسم خيالاتو د مالدارو خلقو او د هغوي د سياسي ډلو د تقريرونو او منشورونو نه ډېره ښه پته لګي او په ډېرو مزدورانو او کسانو ئې هم اثر شوے د ے او هغوي د سرمايه دارانه او جاګير دارنه نظام خلاف اواز پورته کولو او د طبقاتي جنګ کولو په ځائے د اصلاحي خبرو په ذريعه د اپيل او خواست په شکل د خپلو حقوقو د حاصلولو په کوشش کښې اړم دي کوم چې داسې ناممکن کار د ے لکه د زانو نه کټوري غوښتل ـ

دريمه دا چې اکثر سوشلستهان هم د دې نظرئې ښکار دي او ډېر مخلص سوشلستهان هم دا سوچ لري چې سرمايه دارۍ کښې بنيادي نقص دا د ے چې ځيزونه غېر مساوي طور سره وېشلي شوي دي خو که مزدور او سرمايه دار، دهقان او خان دواړه د انصاف نه کار واخلي نو د سرمايه دارۍ او جاګيردارۍ نقصانونه لرې کېد ے شي ـ د دوي دا عقيده ده چې په کومه طريقه مونږ ژوند تېروو او په کومه طريقه سوسائټي منظم شوې ده ـ نو دا زمونږ خيالات دغسې دي ـ دوي مادي وجوهات هېروي ـ ځکه چې په سرمايه دار نظام کښې د دولت وېش په دې نۀ د ے شوے چې ګني د خلقو د خيالات د وېش



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په حقله دغسې دي. بلکې د پېداوار طريقې دغسې دي چې سرمايه دار د مزدورانو لوټ کوي، خانان د دهقانانو لوټ کوي. او چې تر څو دا طريقه جاري وي نو غريبي او مالداري به هم موجود وي او طبقاتي جګړې به هم موجود وي.


## د سوشلستانو فريضه

د دې د پاره د سوشلستانو کار دا دے چې محنت کش او خواري کښ دې راغونډ کړي او د ظالمانو خلاف دې جدوجهد ته تيار کړي او د يو کامياب جنګ نه پس دې د خواري کښانو حکومت قائم کړي دې سره به سرمايه داري هم ختم شي او سوشلزم به هم راوستې شي. که داسې اونهٔ شي نو بيا به همېشه د پاره خواري کښ طبقې سره غداري کېږي. او دوي به هم د ناکامۍ څپېړې په مخ خوري. او يا به د سرمايه دارو خدمت کونکي ترېنه جوړ شي. ځکه چې لکه څنګه د سرمايه دارو د رياست د مشين په ساتلو او د هغې د ختمولو نه بغېر سوشلزم نهٔ شي راتلې. دغه شان د سرمايه دارو د نظرئې لاندې او د خيال پرستۍ په جامه دننه د سوشلزم نظريه نهٔ شي کامياب ېدے.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



Shop no 8 lower ground sheikh Yaseen tower
arbab road Stop university Road Peshawar
Contact No: 0092 3319801600

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner